دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليې وزارت

# رسمي جريده

- دکانونو اوپټرولیم وزارت د کارکوونکو د ساحوي فعالیت د امتیاز مقرره
- د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او دښاري ځمکې د بیا پرمختیا مقرره

- مقررهٔ امتیاز فعالیت ساحوی کارکنان وزارت معادن و پترولیم
- مقررهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری

دخپرېدونېټه:د ۱۳۹۹هـ.ش کال دغبرګولي دمیاشتې (۱۰)
پرله پسې نمبر:(۱۳۷۹)

تاریخ نشر: (۱۰) جوزا سال ۱۳۹۹ هـ.ش
نمبر مسلسل:(۱۳۷۹)

د امتیاز خاوند: د عدلیې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مهتمم: محمد جان ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰

وبسایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (    ) افغانی

تیراژ چاپ: (۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (   ) صفحه

مطبعه: پـــرویـــز

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، ناحیه ششم _ غرب قصر دارالامان

**د کانونـــو او پټرولـــیم وزارت د کارکوونکو د ساحوي فعالیت د امتیاز د مقـــررې د انــــفاذ په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس**

**حکم**

**گڼه: (۴۷۲)**

**نېټه: ۱۳۹۹/۲/۲۹**

**لومړۍ ماده:**

**د کـــــانونو او پــــــټرولیم وزارت د کارکوونکو د ساحوي فعالیـــت د امتیاز مقرره چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کـــابینې د ۱۳۹۹/۲/۱۳ نېټې د (۵) گڼې مصوبې پـــر بنســـټ د (۳) فصلونو او (۱۰) مادو په دننه کـــې تصویب شوې ده، منظوروم.**

**دوه یمه ماده:**

**دغه حکم دې د افغانســـتان د اســـلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د یادې شوې مقررې له متن سره یو ځـــای پـــه رسمي جریده کې خپور شي.**

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**حکم**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررۀ امتیاز فعالیت های ساحــــوی کارکنان وزارت معادن و پترولیم**

**شماره: (۴۷۲)**

**تاریخ: ۱۳۹۹/۲/۲۹**

**مادۀ اول:**

**مقررۀ امتیاز فعالیـــت هـــای ســـاحوی کارکنـــان وزارت معـــادن و پتـــرولیم را که به اســـاس مصـــوبۀ شـــماره (۵) مؤرخ ۱۳۹۹/۲/۱۳ کابینۀ جمهـــوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) فصل و (۱۰) ماده تصویب گردیده است، منظور می دارم.**

**مادۀ دوم:**

**این حکم همـــراه بـــا مصـــوبۀ کابینـــۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررۀ مـــــذکور در جریــــدۀ رســــمی نشر گردد.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د کانونو او پترولیم وزارت د کارکوونکو د ساحوي فعالیت د امتیاز مقررې په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه**

**ګڼه: (۵)**

**نېټه: ۱۳۹۹/۲/۱۳**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې، د کانونو او پترولیم وزارت د کارکوونکو د ساحوي فعالیت د امتیاز د مقررې طرحه د خپلې ۱۳۹۹/۲/۱۳ نېټې په غونډه کې د (۳) فصلونو او (۱۰) مادو په دننه کې تصویب کړه.**

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد مقررۀ امتیاز فعالیت ساحوی کارکنان وزارت معادن و پترولیم**

**شماره:(۵)**

**تاریخ: ۱۳۹۹/۲/۱۳**

**کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان طرح مقررۀ امتیاز فعالیت ساحوی کارکنان وزارت معادن و پترولیم را در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۹/۲/۱۳ خویش به داخل (۳) فصل و (۱۰) ماده تصویب نمود.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ امتیاز فعالیت ساحوی کارکنان وزارت معادن و پترولیم

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۴ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۴ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۵ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ تطبیق | ۵ |
| | **فصل دوم** | |
| | **فعالیت های ساحوی و امتیاز آن** | |
| مادۀ پنجم: | فعالیت های ساحوی | ۶ |
| مادۀ ششم: | اندازه امتیاز فعالیت ساحوی | ۷ |
| مادۀ هفتم: | محاسبه و پرداخت امتیازات فعالیت ساحوی | ۷ |
| | **فصل سوم** | |
| | **احکام نهایی** | |
| مادۀ هشتم: | ایجاد کمیته | ۸ |
| مادۀ نهم: | وضع طرزالعمل ها و لوایح | ۹ |
| مادۀ دهم: | تاریخ انفاذ | ۹ |

## د کانونو او پټرولیم وزارت د کارکوونکو د ساحوي فعالیت د امتیاز مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د کار د قانون د شپږ شپېتمې مادې د (۱) فقرې د ۴ جزء د حکم په رڼا کې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د کانونو او پټرولیم وزارت د کارکوونکو د ساحوي فعالیت د امتیاز د اندازې ټاکنه.

۲- د نفتو، ګازو او کانونو په برخه کې د ساحوي فعالیتونو ترسره کولو ته د کانونو او پټرولیم وزارت د کارکوونکو هڅونه.

## مقررهٔ امتیاز فعالیت ساحوی کارکنان وزارت معادن و پترولیم

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این مقرره در روشنی حکم جزء ۴ فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت و ششم قانون کار، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- تعیین اندازه امتیاز فعالیت ساحوی کارکنان وزارت معادن و پترولیم.

۲- تشویق کارکنان وزارت معادن و پترولیم به انجام فعالیت های ساحوی در عرصهٔ معادن، نفت و گاز.

۳- د نفتو، ګاز او کانونو د برخې د کارکوونکو لپاره د ساحوي فعالیت د امتیاز د ورکړې د مستلزمو حالاتو تشخیص او تثبیت.

## اصطلاحګانې

**درېیمه ماده:**

په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- د ساحوي فعالیت امتیاز: هغه نغدي وجوه دي چې د کانونو او پټرولیم وزارت د هغو کارکوونکو لپاره ورکول کېږي چې ساحوي فعالیتونه ترسره کوي.

۲- ساحوي فعالیت: د دې مقررې په پنځمه ماده کې درج شوي فعالیتونه دي چې د ځمکې په سطحه یا لاندې ترسره کېږي او ناوړې اغېزې لري.

## د پلي کولو ساحه

**څلورمه ماده:**

د دې مقرره حکمونه د کانونو او پټرولیم وزارت په هغو کارکوونکو پلي کېږي چې له ساحوي فعالیتونو څخه یو

۳- تشخیص و تثبیت حالات مستلزم پرداخت امتیاز فعالیت ساحوی برای کارکنان عرصهٔ معادن، نفت و گاز.

## اصطلاحات

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره، مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- امتیاز فعالیت ساحوی: وجوه نقدی است که برای کارکنان وزارت معادن و پترولیم که فعالیت های ساحوی را اجراء می نمایند، پرداخته می شود.

۲- فعالیت ساحوی: فعالیت های مندرج ماده پنجم این مقرره می باشد که در سطح یا زیرزمین اجراء و دارای اثرات سوء می باشد.

## ساحهٔ تطبیق

**مادهٔ چهارم:**

احکام این مقرره بر کارکنان وزارت معادن و پترولیم که یکی از فعالیت های ساحوی را انجام می دهند،

ترسره کوي.

## دوه یم فصل

## ساحوي فعالیتونه او

## د هغو امتیاز

**ساحوي فعالیتونه**

**پنځمه ماده:**

د کانونو او پټرولیم وزارت هغه شمېر کارکوونکي چې لاندې فعالیتونه ترسره کوي، د ساحوي فعالیت د امتیاز مستحق دي:

۱- د جیولوجي سروې (سروې او نقشې اخیستنه، پلټنه، اکتشاف او سیمه ییز جیولوجي مطالعات).

۲- له منرالونو څخه ګټه اخیستنه او پروسس.

۳- تخنیکي پلټنه.

۴- د تیلو او ګاز فعالیتونه (هایدرو کاربن).

۵- د امتیاز د مستلزمو ساحوي فعالیتونو د تثبیت د کمېټې په تشخیص نور فعالیتونه.

تطبیق می گردد.

## فصل دوم

## فعالیت های ساحوی و امتیاز آن

**فعالیت های ساحوی**

**مادهٔ پنجم:**

آنعده کارکنان وزارت معادن و پترولیم که فعالیت های ذیل را انجام می دهند، مستحق امتیاز فعالیت ساحوی می باشند:

۱- سروی جیولوجی (سروی و نقشه برداری، تفحص، اکتشاف و مطالعات جیولوجی محیطی).

۲- بهره برداری و پروسس منرال ها.

۳- تفتیش تخنیکی.

۴- فعالیت های نفت و گاز (هایدروکاربن).

۵- سایر فعالیت ها به تشخیص کمیته تثبیت فعالیت های ساحوی مستلزم امتیاز.

## د ساحوي فعالیت د امتیاز اندازه

**شپږمه ماده:**

(۱) هغه مسلکي کارکوونکی چې د دې مقررې په پنځمه ماده کې د درج شوو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره په ساحه کې توظیف کېږي، په ورځ کې (۱۲۰۰) افغانۍ، د ساحوي فعالیت امتیاز هغه ته ورکول کېږي.

(۲) هغه اداري او خدماتي کارکوونکی چې د دې مقررې په پنځمه ماده کې د درج شویو فعالیتونو په ترسره کولو د اسانتیاوو د برابرولو لپاره په ساحه کې توظیف کېږي، په ورځ کې (۸۰۰) افغانۍ د ساحوي فعالیت امتیاز هغه ته ورکول کېږي.

## د ساحوي فعالیت د امتیازونو محاسبه او ورکړه

**اوومه ماده:**

(۱) په دې مقرره کې د درج شوي ساحوي فعالیت امتیاز د اړوند ولایت د کانونو او پټرولیم ریاست له تأیید څخه وروسته، په لیکلي ډول محاسبه او

## اندازه امتیاز فعالیت ساحوی

**مادۀ ششم:**

(۱) کارکن مسلکی که جهت انجام فعالیت های مندرج ماده پنجم این مقرره در ساحه توظیف می گردد، روزانه مبلغ (۱۲۰۰) افغانی، امتیاز فعالیت ساحوی به وی پرداخت می گردد.

(۲) کارکن اداری و خدماتی که جهت فراهم آوری تسهیلات در اجرای فعالیت های مندرج مادۀ پنجم این مقرره در ساحه توظیف میگردد، مبلغ (۸۰۰) افغانی روزانه امتیاز فعالیت ساحوی به وی پرداخت می گردد.

## محاسبه و پرداخت امتیازات فعالیت ساحوی

**مادۀ هفتم:**

(۱) امتیاز فعالیت ساحوی مندرج این مقرره بعد از تأیید ریاست معادن و پترولیم ولایت مربوط، طور کتبی محاسبه و پرداخت

ورکول کېږي.

(۲) کارکوونکی په یوه وخت کې په دې مقرره کې د درج شوي ساحوي فعالیت له یوه امتیاز څخه زیات مستحق نه کېږي.

(۳) په دې مقرره کې د درج شوي ساحوي فعالیت له امتیاز څخه ګټه اخیستنه، د هغو نورو مالي امتیازونو د اجراء خنډ نه ګرځي چې کارکوونکي یې د اړوندو تقنیني سندونو پربنسټ مستحق دی.

(۴) د کانونو او پټرولیم وزارت هغه کارکوونکی چې د دې مقررې له امتیاز څخه ګټه اخلي، د منطقوي او د ساحوي اقلیمي کار د معاش د امتیاز په مقرره کې له درج شوي امتیاز څخه ګټه نه شي اخیستې.

## درېیم فصل

## وروستني حکمونه

د کمېټې رامنځ ته کول

اتمه ماده:

(۱) د کانونو او پټرولیم وزارت

می گردد.

(۲) کارکن همزمان مستحق بیش از یک امتیاز فعالیت ساحوی مندرج این مقرره نمی گردد.

(۳) استفاده از امتیازفعالیت ساحوی مندرج این مقرره، مانع اجرای سایر امتیازات مالی که کارکن به اساس اسناد تقنینی مربوط مستحق می باشد، نمی گردد.

(۴) کارکن وزارت معادن و پترولیم که از امتیاز این مقرره مستفید می گردد، از امتیاز مندرج مقررهٔ امتیاز معاش کار منطقوی و اقلیمی ساحوی، مستفید شده نمی تواند.

## فصل سوم

## احکام نهایی

ایجاد کمیته

مادهٔ هشتم:

(۱) وزارت معادن و پترولیم به منظور

د ساحوي فعاليتونو د تثبيت په منظور کمېټه رامنځ ته کوي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي فعاليت پورې د اړونده کمېټې چارې په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

## د کړنلارو او لايحو وضع

**نهمه ماده:**

د کانونو او پټروليم وزارت کولای شي، د دې مقررې د حکمونو د ښه پلي کولو په منظور، کړنلارې، لايحې او لارښونې چې د قانون او د دې مقررې له حکمونو سره په مغايرت کې نه وي، وضع کړي.

## د انفاذ نېټه

**لسمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

تثبيت فعاليت های ساحوی کميته را ايجاد می نمايد.

(۲) امور مربوط به فعاليت کميتۀ مندرج فقرۀ (۱) اين ماده در طرزالعمل جداگانه تنظيم می گردد.

## وضع طرزالعمل ها و لوايح

**مادۀ نهم:**

وزارت معادن و پطروليم می تواند، به منظور تطبيق بهتر احکام اين مقرره، طرزالعمل ها، لوايح و رهنمود های را که در مغايرت با احکام قانون واين مقرره نباشد، وضع نمايد.

## تاريخ انفاذ

**مادۀ دهم:**

اين مقرره از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

**د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس حکم**

ګڼه: (۱۳۹)

نېټه: ۱۳۹۹/۱/۲۶

**لومړۍ ماده:**

د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا مقررې چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۳۹۸/۱۱/۲۱ نېټې د (۱۲) ګڼه مصوبې پر بنسټ د (۴) فصلونو او (۳۲) مادو په دننه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه حکم دې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د يادې شوې مقررې له متن سره يوځای، په رسمي جريده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

**حکم رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری**

شماره: (۱۳۹)

تاریخ: ۱۳۹۹/۱/۲۶

**مادهٔ اول:**

مقررهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری را که به اساس مصوبهٔ شماره (۱۲) مؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۲۱ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و (۳۲) ماده، تصویب گردیده است، منظور می‌دارم.

**مادهٔ دوم:**

این حکم همراه با مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررهٔ مذکور در جریدهٔ رسمی، نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

**د ښاري ځمکې د بیا تنظـــیم او د ښاري ځمکـــې د بیا پرمـــختیا مقررې دطرحې په هکله دافغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه**

**ګڼه: (۱۲)**

**نېټه: ۱۳۹۸/۱۱/۲۱**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې، طرحه د خپلې ۱۳۹۸/۴/۱۸ نېټې په غونډه کې د ښــاري ځمکــې د بیــا تنظـــیم او د ښاري ځمکــې د بیــا پرمـــختیا مقررې د (۴) فصـــلونو او (۳۲) مادو په دننه کې تصویب کړه.**

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح مقررهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری**

**شماره: (۱۲)**

**تاریخ: ۱۳۹۸/۱۱/۲۱**

**کابینهٔ جمهـــوری اســـلامی افغانستان، در جلســـهٔ مـــؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۲۱ خویش طرح مقـــررهٔ تنظـــیم مجـــدد زمین شـــهری و انکشـــاف مجـــدد زمین شهری را به داخل (۴) فصـــل و (۳۲) ماده مورد تصویب قرار داد.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۵ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۵ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۶ |
| مادهٔ چهارم: | مرجع تطبیق کننده | ۱۱ |
| مادهٔ پنجم: | نام اختصاری | ۱۱ |


### فصل دوم

### تعیین ساحه و ترتیب پلان ها


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ ششم: | استفاده از پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری | ۱۲ |
| مادهٔ هفتم: | استفاده از پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری | ۱۲ |
| مادهٔ هشتم: | تعیین ساحه | ۱۳ |
| مادهٔ نهم: | اطلاع به مالکین زمین | ۱۴ |
| مادهٔ دهم: | ترتیب پلان ها | ۱۵ |
| مادهٔ یازدهم: | تصویب پلان | ۱۸ |
| مادهٔ دوازدهم: | نظرخواهی | ۱۹ |
| مادهٔ سیزدهم: | ارائه اعتراض | ۱۹ |
| مادهٔ چهاردهم: | ثبت نام و ارائهٔ اسناد مدار اعتبار | ۲۱ |
| مادهٔ پانزدهم: | تعیین قطعات زمین اولی | ۲۴ |
| مادهٔ شانزدهم: | تعیین قطعات زمین پلانی | ۲۶ |
| مادهٔ هفدهم: | مشارکت مالکین زمین | ۲۷ |

مادۀ هجدهم: منابع مالی پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری............................ ۳۰

## فصل سوم

## کمیتۀ هماهنگی پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری

مادۀ نزدهم: ایجاد کمیتۀ هماهنگی............................................ ۳۱
مادۀ بیستم: شرایط اعضای کمیتۀ هماهنگی............................... ۳۲
مادۀ بیست و یکم: تعیین اعضای کمیتۀ هماهنگی............................ ۳۳
مادۀ بیست و دوم: رئیس و معاون کمیتۀ هماهنگی............................ ۳۶
مادۀ بیست و سوم: جلسات کمیتۀ هماهنگی.................................. ۳۷
مادۀ بیست و چهارم: وظایف و صلاحیت های کمیتۀ هماهنگی................ ۳۸

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ بیست و پنجم: بی اعتبار بودن تغییرات بعد از اطلاع....................... ۴۰
مادۀ بیست وششم: تقسیم و ادغام نمره زمین.................................. ۴۱
مادۀ بیست و هفتم: توزیع تأسیسات عامه به ادارات ذیربط.................... ۴۲
مادۀ بیست وهشتم: ثبت و اعطای سند ملکیت.................................. ۴۳
مادۀ بیست ونهم: اسکان مؤقت................................................. ۴۴
مادۀ سی ام: ایجاد کمیتۀ تخنیکی............................................. ۴۴
مادۀ سی ویکم: وضع لوایح و طرزالعمل ها.................................... ۴۶
مادۀ سی ودوم: انفاذ............................................................ ۴۷

## د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د استملاک د قانون د شپږڅلوېښتمې مادې د تعدیل د (۱) فقرې د حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې مقررې موخې عبارت دي له:

۱– د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا تر پروژو لاندې د ځمکې د مالکانو د مشارکت له لارې د ماستر پلان د تطبیق د زمینې برابرول.

۲– د پلاني ساحو پرمختیا او د اساسي زېربناوو او د عامه تأسیساتو رامنځ ته کول.

## مقررهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این مقرره به تأسی از حکم فقرهٔ (۱) تعدیل مادهٔ چهل و ششم قانون استملاک، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این مقرره، عبارت اند از:

۱– فراهم نمودن زمینهٔ تطبیق ماستر پلان از طریق مشارکت مالکین زمین تحت پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری.

۲– انکشاف ساحات پلانی و ایجاد زیربناهای اساسی و تأسیسات عامه.

۳- د غیرې پلاني ساحو پلاني کول.

۴- د ښاري خدمتونو د ښې عرضې د زمينې برابرول.

۵- د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا تر پروژو لاندې د ځمکې د مالکانو په واسطه د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا د پروژو د مالي سرچينو د تمويل د زمينې برابرول.

## اصطلاحګاني

**دريیمه ماده:**

(۱) په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- د ښاري ځمکې بيا تنظيم: هغه عمليه ده چې د ځمکې د ټوټو د شکل د اصلاح او منظم کولو لپاره صورت مومي، د ساحې اساسي زيربناوې او عامه تأسيسات د ښاري ځمکې د بيا تنظيم تر پروژې لاندې د ځمکې د مالکانو د مشارکت په پام کې نيولو سره، بيا رامنځ ته کوي او يا موجودې

۳- پلانی ساختن ساحات غير پلانی.

۴- فراهم نمودن زمينهٔ عرضهٔ بهتر خدمات شهری.

۵- فراهم نمودن زمينهٔ تمويل منابع مالی پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری و انکشاف مجدد زمين شهری توسط مالکين زمين تحت پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری و انکشاف مجدد زمين شهری.

## اصطلاحات

**مادهٔ سوم:**

(۱) اصطلاحات آتی در اين مقرره مفاهيم ذيل را افاده می‌نمايد:

۱- تنظيم مجدد زمين شهری: عمليهٔ است که جهت اصلاح شکل و منظم ساختن قطعات زمين صورت گرفته، زير بناهای اساسی و تأسيسات عامهٔ ساحه را با در نظرداشت مشارکت مالکين زمين تحت پروژهٔ تنظيم مجدد زمين شهری جديداً ايجاد و يا

آسانتیاوې ښې کوي او له هرې نمرې ځمکې څخه د ګټې اخېستنې اغېزمنتوب لوړوي.

۲- د ښاري ځمکې بیا پرمختیا: هغه عملیه ده چې له ماستر پلان سره سم، له ځمکې څخه د اعظمي ګټې اخېستنې لپاره په یوه ټوټه یېزه عمودي شکل د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا تر پروژې لاندې د ځمکې د مالکانو د مشارکت په پام کې نیولو سره، صورت مومي.

۳- عامه تأسیسات: هغه ساختمانونه دي چې د هغو د ودانولو یا احداث لګښتونه د اړوندو ادارو له لوري ورکول شوي وي او ښوونیز، تحصیلي، روغتیایي، خدماتي، فرهنګي، تفریحي او ترانسپورتي تأسیسات او نور تأسیسات په کې شاملېږي.

۴- د ساختمان په مساحت د ځمکې بدلون: هغه عملیه ده چې ځمکه د دغې پروژې په پلان کې د اساسي زېربناوو او د مشخص شوو عامه تأسیساتو په پام کې نیولو سره د ښاري ځمکې د بیا

تسهیلات موجود را بهتر ساخته و مؤ ثریت استفاده هر نمره زمین را بلند می‌برد.

۲- انکشاف مجدد زمین شهری: عملیهٔ است که جهت استفادهٔ اعظمی از زمین در مطابقت با ماستر پلان به شکل عمودی یکپارچه‌ای با درنظرداشت مشارکت مالکین زمین تحت پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری، صورت می‌گیرد.

۳- تأسیسات عامه: ساختمان های است که مصارف اعمار یا احداث آن ها از جانب ادارات ذیربط پرداخته شده و شامل تأسیسات تعلیمی، تحصیلی، صحی، خدماتی، فرهنگی، تفریحی، ترانسپورتی و سایر تأسیسات می‌باشد.

۴- تبدیل زمین به مساحت ساختمان: عملیهٔ است که زمین به اندازهٔ تعیین شده در پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری با درنظرداشت زیربناهای اساسی و تأسیسات عامهٔ مشخص شده

پرمختیا په پروژه کې په ټاکل شوې اندازه د ساختمان په مساحت بدلیږي.

۵- اساسي زیربنا: لومړني او اړین زیربنایي تأسیسات دي چې د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو په مالي تمویل سره، احداث یا ودانیږي او د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا په پروژو پورې اړوند سړکونه، ویالې، کانالونه، پارکونه او نورې عامه ساحې رانغاړي.

٦- د ځمکې د مالکانو مشارکت: هغه عملیه ده چې د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا تر پروژو لاندې د ځمکې مالکان، د خپل ملکیت ټاکل شوې سلنه د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو د اساسي زیربنا لپاره د ځکمې د برابرولو او د مالي سرچینو د تأمین لپاره، له استملاک پرته د اړوندې ښاروالۍ یا د اړوندې دولتي ادارې په واک کې ورکوي.

۷- د وروستي ساختمان مساحت: په

در پلان آن پروژه به مساحت ساختمان تبدیل می‌گردد.

۵- زیربنای اساسی: تأسیسات زیربنایی اولیه و ضروری است که با تمویل مالی پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری، احداث یا اعمار می‌گردد و شامل سرک ها، جوی ها، کانال ها، پارک ها و سایر ساحات عامۀ مربوط به پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری می‌باشد.

٦- مشارکت مالکین زمین: عملیۀ است که مالکین زمین تحت پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری، فیصدی تعیین شدۀ ملکیت خویش را جهت فراهم نمودن زمین برای زیربنای اساسی و تأمین منابع مالی پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری، بدون استملاک در اختیار شاروالی مربوط یا اداره دولتی ذیربط، قرار می‌دهند.

۷- مساحت ساختمان نهایی: محدودۀ

ساختمان کې هغه مشخصه محدوده ده چې د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا تر پروژې لاندې د ځمکې مالک د اړوندې مخکینۍ ځمکې په بدل کې د ساختمان په مساحت د ځمکې د بدلون د پلان پر بنسټ د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژې له تطبیق وروسته، تر لاسه کوي.

۸- بیا نمره بندي: هغه عملیه ده چې د هغې پر بنسټ د ښاري ځمکې د بیا تنظیم په پروژه کې د ځمکې موقعیت، مساحت او شکل د هغې د مخکینۍ وضعیت، اساسي زیربناوو او د ښاري ځمکې د بیا تنظیم د پروژې په پلان کې مشخص شوي عامه تأسیسات د ځمکې د مالکانو له مشارکت وروسته، ټاکل کېږي.

۹- د ساختمان د اړوندې ځمکې نمره: په مشخصې محدودې سره د ځمکې هغه ټوټه ده چې د ساختمان د ودانولو او د هغه د اړتیا وړ آسانتیاوو لپاره، تخصیص مومي.

۱۰- د لومړنۍ ځمکې ټوټه: په

مشخص در ساختمان است که مالک زمین تحت پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری در بدل زمین قبلی مربوط، بعد از تطبیق پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری به اساس پلان تبدیل زمین به مساحت ساختمان، بدست می‌آورد.

۸- نمره بندی مجدد: عملیهٔ است که به اساس آن در پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری، موقعیت، مساحت و شکل زمین با درنظرداشت وضعیت قبلی آن، زیربناهای اساسی و تأسیسات عامهٔ مشخص شده در پلان پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری، بعد از مشارکت مالکین زمین تعیین می‌گردد.

۹- نمره زمین مربوط ساختمان: قطعه زمین با محدودهٔ مشخص است که جهت اعمار ساختمان و تسهیلات مورد ضرورت آن، تخصیص می‌یابد.

۱۰- قطعه زمین اولی: قطعه زمین با

مشخصې محدودې سره د ځمکې هغه ټوټه ده چې شخص د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژې له تطبیق مخکې د هغې مالک وي.

۱۱- د پلاني ځمکې ټوټه: په مشخصې محدودې سره د ځمکې هغه ټوټه ده چې د ښاري ځمکې د بیا تنظیم تر پروژې لاندې د ځمکې مالک د خپلې لومړنۍ ځمکې ټوټې په بدل کې د بیا نمره بندۍ د پلان پر بنسټ د ښاري ځمکې د بیا تنظیم د پروژې له تطبیق وروسته یې، تر لاسه کوي.

۱۲- مالي ځمکه: ځمکه یا د هغې بدیل دی چې د ځمکې د مالکانو د مشارکت له لارې د ښاري ځمکې د بیا تنظیم په پروژه کې د اساسي زیربناوو د مالي تمویل، ښه والي، احیاء او ودانولو په منظور د هغو د لومړنۍ ځمکې ټوټې له مساحت څخه د ټاکل شوې مساوي سلنې په وضع کولو سره د اړوندې ښاروالۍ یا د اړوندې دولتي ادارې په واک کې ورکول کېږي.

محدودهٔ مشخص است که شخص قبل از تطبیق پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری، مالک آن می‌باشد.

۱۱- قطعه زمین پلانی: قطعه زمین با محدودهٔ مشخص است که مالک زمین تحت پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری در عوض قطعه زمین اولی خویش بعد از تطبیق پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری به اساس پلان نمره بندی مجدد، بدست می‌آورد.

۱۲- زمین مالی: زمین یا بدیل آن است که به منظور تمویل مالی، بهبود، احیاء و اعمار زیربناهای اساسی در پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری از طریق مشارکت مالکین زمین با وضع فیصدی مساوی تعیین شده از مساحت قطعه زمین اولی آن ها در اختیار شاروالی مربوط یا ادارهٔ دولتی ذیربط قرار می‌گیرد.

۱۳- د مالي ساختمان مساحت: په ساختمان کې هغه مشخصه محدوده ده چې د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژې د مالي تمویل په منظور د اړوندې ښاروالۍ یا اړوندې دولتي ادارې په واک کې ورکول کېږي.

(۲) په دې مقرره کې د استملاک د قانون او د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون درج شوې اصطلاحګانې، هماغه مفاهیم افاده کوي.

## تطبیق کوونکې مرجع

**څلورمه ماده:**

ښاروالي یا اړونده دولتي اداره د ماستر پلان او ښاري پلانونو په محدوده کې، د دې مقررې د حکمونو د تطبیق مرجع ده.

## اختصاري نوم

**پنځمه ماده:**

د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا تر پروژو لاندې د ځمکې مالکان له دې وروسته په دې مقرره کې د ځمکې د مالکانو

۱۳- مساحت ساختمان مالی: محدودهٔ مشخص در ساختمان است که به منظور تمویل مالی پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری در اختیار شاروالی مربوط یا ادارهٔ دولتی ذیربط، قرار می‌گیرد.

(۲) اصطلاحات مندرج قانون استملاک و قانون تنظیم امور زمینداری در این مقرره، همان مفاهیم را افاده می‌نماید.

## مرجع تطبیق کننده

**مادهٔ چهارم:**

شاروالی یا ادارهٔ دولتی ذیربط در محدودهٔ ماسترپلان و پلان های شهری، مرجع تطبیق احکام این مقرره می‌باشد.

## نام اختصاری

**مادهٔ پنجم:**

مالکین زمین تحت پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری منبعد در این مقرره به نام مالکین

په نوم يادېږي.

## دوه يم فصل

## د ساحې ټاکنه او د پلانونو ترتيب

**د ښاري ځمکې د بيا تنظيم له پروژې څخه ګټه اخېستنه**

**شپږمه ماده:**

ښاروالي يا دولتي اړونده اداره کولای شي، د ښاري غير پلاني ساحو د پلاني کولو او د پلاني ساحو د پرمختيا، د ځمکې د ټوټو د شکل د اصلاح او منظم کولو او د ځمکې د مالکانو د مشارکت او د دوی موافقه په پام کې نيولو سره، د اساسي زېربناوو او د عامه تأسيساتو د رامنځ ته کولو په منظور د ښاري ځمکې د بيا تنظيم له پروژې څخه ګټه واخلي.

**د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا له پروژې څخه ګټه اخېستنه**

**اوومه ماده:**

ښاروالي يا اړونده دولتي اداره کولای

زمين ياد می‌شود.

## فصل دوم

## تعيين ساحه و ترتيب پلان ها

**استفاده از پروژۀ تنظيم مجدد زمين شهری**

**مادۀ ششم:**

شاروالی يا ادارۀ دولتی ذيربط می‌تواند به منظور پلانی ساختن ساحات غير پلانی شهری و انکشاف ساحات پلانی، اصلاح شکل و منظم ساختن قطعات زمين و ايجاد زيربناهای اساسی و تأسيسات عامه با درنظرداشت مشارکت مالکين زمين و موافقت آنها از پروژۀ تنظيم مجدد زمين شهری استفاده نمايد.

**استفاده از پروژۀ انکشاف مجدد زمين شهری**

**مادۀ هفتم:**

شاروالی يا ادارۀ دولتی ذيربط

شي، د ځمکې د مالکانو د مشارکت او د دوی موافقه په پام کې نیولو سره، د ښاري غیر پلاني ساحو پلاني کولو او د پلاني ساحو د پرمختیا په منظور د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا له پروژې څخه ګټه واخلي.

**د ساحې ټاکنه**

**اتمه ماده:**

(۱) ښاروالي یا اړونده دولتي اداره کولای شي، د ماستر پلان په پام کې نیولو سره، د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا تر پروژو لاندې ساحه، وټاکي.

(۲) ښاروالي یا اړونده دولتي اداره کولای شي، د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا تر پروژو لاندې ساحه کې د عامه تأسیساتو د ودانولو په منظور د ځمکې یوه ټوټه وټاکي.

(۳) ښاروالي یا اړونده دولتي اداره کولای شي، د دې مادې د (۲) فقرې د درج شوي حکم د تطبیق لپاره

می‌تواند به منظور پلانی ساختن ساحات غیر پلانی شهری و انکشاف ساحات پلانی با درنظرداشت مشارکت مالکین زمین و موافقت آن ها از پروژۀ انکشاف مجدد زمین شهری، استفاده نماید.

**تعیین ساحه**

**مادۀ هشتم:**

(۱) شاروالی یا ادارۀ دولتی ذیربط می‌تواند با درنظرداشت ماستر پلان، ساحۀ تحت پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری را، تعیین نماید.

(۲) شاروالی یا ادارۀ دولتی ذیربط می‌تواند، قطعه زمینی را به منظور اعمار تأسیسات عامه در ساحۀ تحت پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری، تعیین نماید.

(۳) شاروالی یا ادارۀ دولتی ذیربط می‌تواند، جهت تطبیق حکم مندرج فقره (۲) این ماده در حدود احکام

د قانون د حکمونو په حدودو کې د ماسټر پلان، استراتيژيک پلان او د هادي پلان د تعديل طرح ترتيب او واکمنو مراجعو ته وړاندې کړي.

(۴) ښاروالي يا اړونده دولتي اداره کولی شي، د ځمکې له مالکانو سره په همغږۍ کې د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا پروژې، د تقنيني سندونو له حکمونو سره سم، د خصوصي سکتور له لارې، تطبيق کړي.

## د ځمکې مالکانو ته اطلاع

**نهمه ماده:**

(۱) ښاروالي يا اړونده دولتي اداره مکلفه ده، د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا د پروژو له پيل څخه شپېته ورځې مخکې د تطبيق موخې، د اجراء ډول او د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا تر پروژو لاندې ساحې د حدودو ټاکنه د ټوليزو رسنيو يا د نورو ممکنه وسايلو له لارې د ځمکې

قانون، طرح تعديل ماستر پلان، پلان استراتيژيک و پلان هادی را ترتيب و به مراجع ذيصلاح ارائه نمايد.

(۴) شاروالی يا ادارهٔ دولتی ذيربط می‌تواند، پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری و انکشاف مجدد زمين شهری را در هماهنگی با مالکين زمين، مطابق احکام اسناد تقنينی از طريق سکتور خصوصی، تطبيق نمايد.

## اطلاع به مالکين زمين

**مادهٔ نهم:**

(۱) شاروالی يا ادارهٔ دولتی ذيربط مکلف است، شصت روز قبل از آغاز پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری و انکشاف مجدد زمين شهری، اهداف تطبيق، نحوهٔ اجراء و تعيين حدود ساحهٔ تحت پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری و انکشاف مجدد زمين شهری را به مالکين زمين از طريق رسانه های همگانی يا ساير وسايل

مالکانو ته خبرتیا ورسوي.

(۲) د ځمکې مالکان کولای شي، د ښاري ځمکې د بیا تنظیم یا د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو د تطبیق غوښتنلیک اړوندې ښاروالۍ یا اړونده دولتي ادارې ته وړاندې کړي.

(۳) ښاروالي یا اړونده دولتي اداره کولای شي، د دې مادې د (۲) فقرې د درج شوي غوښتنلیک له تأیید څخه وروسته د دې مقررې د حکمونو، اړوندو تقنیني سندونو او د ماستر پلان په پام کې نیولو سره، د ځمکې مالکانو په موافقه د ښاري ځمکو د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا پروژې، تطبیق کړي.

## د پلانونو ترتیب

**لسمه ماده:**

(۱) ښاروالي یا اړونده دولتي اداره د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د اړوندې ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو پلان طرحه او ترتیبوي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې د درج

ممکنه اطلاع دهد.

(۲) مالکین زمین می‌توانند، درخواست تطبیق پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری یا انکشاف مجدد زمین شهری را به شاروالی مربوط یا ادارهٔ دولتی ذیربط، ارائه نمایند.

(۳) شاروالی یا ادارهٔ دولتی ذیربط می‌تواند، بعد از تأیید درخواست مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری را با درنظرداشت احکام این مقرره، اسناد تقنینی مربوط و ماسترپلان به موافقهٔ مالکین زمین، تطبیق نماید.

## ترتیب پلان ها

**مادهٔ دهم:**

(۱) شاروالی یا ادارهٔ دولتی ذیربط، پلان پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری مربوط را طرح و ترتیب می‌نماید.

(۲) پلان پروژه های مندرج

شوو پـــروژو پـــلان لانـــدې مـــوارد رانغاړي:
۱- د پروژې عنوان.
۲- تر پروژې لاندې د ساحې یا ساحو نوم.
۳- په ثابتو علامو سره د پـــروژې د حدودو ټاکنه او د نقشې پرمخ د هغې د کوردیناتو مشخص کول.
۴- د پروژې هغه کلي طرحه چـــې د اساسي زیربناوو پلان او له وړانـــدیز شوې ځمکې څخه د ګټې اخیستنې پلان رانغاړي.
۵- د ښاروالۍ مجلس په تشخیص نور موارد.
(۳) ښاروالي یا اړونده دولتـــي اداره د ښاري ځمکـــې د بیـــا تنظـــیم او د اړوندې ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو مالي او اجرایي پـــلان، چـــې د پروژې د لګښتونو او عوایدو ارزونه په کې شامله ده، طرحه او ترتیبوي.
(۴) ښاروالي یا اړونده دولتـــي اداره مکلفه ده، د دې مقررې د نولســـمې مادې د درج شوې همغږۍ له کمیټـــې

فقرهٔ (۱) این مـــاده شـــامل مـــوارد ذیل می‌باشد:
۱- عنوان پروژه.
۲- نام ساحه یـــا ســـاحات تحـــت پروژه.
۳- تعیین حدود پـــروژه بـــا علایـــم ثابت و مشخص نمـــودن کوردینـــات آن در روی نقشه.
۴- طـــرح کلـــی پـــروژه کـــه شـــامل پـــلان زیربناهـــای اساســـی و پلان اســـتفاده از زمـــین پیشـــنهاد شده، می‌باشد.
۵- سایر موارد به تشخیص مجلـــس شاروالی.
(۳) شاروالی یا ادارهٔ دولتی ذیـــربط، پلان مالی و اجرایی پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری مربـــوط را کـــه شـــامل ارزیابی مصارف و عواید پروژه مـــی-باشد، طرح و ترتیب می‌نماید.
(۴) شاروالی یا ادارهٔ دولتی ذیـــربط مکلف است در مشوره بـــا کمیتـــهٔ هماهنگی مندرج مادهٔ نـــزدهم ایـــن

سره په مشوره کې د ښاري ځمکې د بیا تنظیم په پروژه کې د بیا نمره بندۍ پلان او د اړوندې ښاري ځمکې د بیا پرمختیا په پروژه کې د ساختمان په مساحت د ځمکې د بدلون پلان طرحه او ترتیب کړي.

(۵) د ښاري ځمکې د بیا تنظیم په پروژه کې د بیا نمره بندۍ پلان، لاندې موارد رانغاړي:

۱- د بیا نمرې بندۍ طرحه او نقشه.

۲- د پروژې له تطبیق څخه مخکې او وروسته د ځمکې د نمرو مشخصات.

۳- له ځمکې څخه د ګټې اخیستنې د ډول مشخصات.

۴- هغه نور موارد چې د ښاري ځمکې د بیا تنظیم د پروژې د همغږۍ د کمېټې په واسطه ټاکل کېږي.

(٦) د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا په پروژه کې د ساختمان په مساحت د ځمکې د بدلون پلان، لاندې موارد رانغاړي:

۱- د ساختمان په مساحت د ځمکې د بدلون طرحه او نقشه.

مقرره، پلان نمره بندی مجدد در پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری و پلان تبدیل زمین به مساحت ساختمان در پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری مربوط را طرح و ترتیب نماید.

(۵) پلان نمره بندی مجدد در پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری، شامل موارد ذیل می‌باشد:

۱- طرح و نقشه نمره بندی مجدد.

۲- مشخصات نمرات زمین قبل و بعد از تطبیق پروژه.

۳- مشخصات نوع استفاده از زمین.

۴- سایر مواردکه توسط کمیتهٔ هماهنگی پروژهٔ تنظیم مجدد زمین شهری تعیین می‌گردد.

(٦) پلان تبدیل زمین به مساحت ساختمان در پروژهٔ انکشاف مجدد زمین شهری، شامل موارد ذیل می‌باشد:

۱- طرح و نقشهٔ تبدیل زمین به مساحت ساختمان.

۲- د پروژې له تطبیق څخه وروسته د ځمکې د نمرو، تر ساختمان لاندې د ځمکې د نمرې او د ساختمان د مجموعي مساحت مشخصات.

۳- د ودانۍ له هر پوړ او د هغه له مساحت څخه د ګټې اخیستنې نوعیت.

۴- هغه نور موارد چې د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژې د همغږۍ د کمېټې په واسطه ټاکل کېږي.

**د پلان تصویب**

**یوولسمه ماده:**

(۱) ښاروالي یا اړونده دولتي اداره، د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو پلان د تصویب په غرض د ښار او کور جوړولو قانون د نهمې مادې درج شوي ځانګړي کمېسیون ته وړاندې کوي.

(۲) د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا په پروژو کې مالي او اجرایي پلان، بیا نمره بندي او د ساختمان په مساحت د ځمکې

۲- مشخصات نمرات زمین، نمره زمین تحت ساختمان و مساحت مجموعی ساختمان بعد از تطبیق پروژه.

۳- نوعیت استفاده از ساختمان در هر منزل و مساحت آن.

۴- سایر موارد که توسط کمیتۀ هماهنگی پروژۀ انکشاف مجدد زمین شهری تعیین می‌گردد.

**تصویب پلان**

**مادۀ یازدهم:**

(۱) شاروالی یا ادارۀ دولتی ذیربط، پلان پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری را غرض تصویب به کمیسیون ویژه، مندرج مادۀ نهم قانون شهرسازی و مسکن، ارائه می‌نماید.

(۲) پلان مالی و اجرایی، نمره بندی مجدد و تبدیل زمین به مساحت ساختمان در پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین

بدلون د اړونده ښاروال، وزير او يا د اړوندې دولتي ادارې رئيس له لوري منظورېږي.

نظر غوښتنه

دوولسمه ماده:

(۱) ښاروالي يا اړونده دولتي اداره مکلفه ده، د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا د پروژو د پلان طرحه په جلا ډول ترتيب او د نظر غوښتنې لپاره د شل ورځو په موده په پرله پسې ډول د ټوليزو رسنيو له لارې او له نورو ممکنو لارو خپره کړي.

(۲) د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا د پروژو د پلان د طرحې په هکله د نظر غوښتنې ډول په اړونده کړنلاره کې تنظيمېږي.

د اعتراض وړاندې کول

ديارلسمه ماده:

(۱) د ځمکې مالکان کولای شي د دې مقررې د دوولسمې مادې د (۱) فقرې د درج شوې مودې له تېرېدو

شهری از طرف شاروال، وزیر یا رئیس ادارۀ دولتی ذیربط، منظور می‌گردد.

نظرخواهی

مادۀ دوازدهم:

(۱) شاروالی یا ادارۀ دولتی ذیربط مکلف است، طرح پلان پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری را طور جداگانه ترتیب و جهت نظر خواهی برای مدت بیست روز به صورت متواتر از طریق رسانه های همگانی و سایر طرق ممکن نشر نماید.

(۲) طرز نظر خواهی در مورد طرح پلان پروژه های تنظیم مجدد زمین شهری و انکشاف مجدد زمین شهری در طرزالعمل مربوط، تنظیم می‌گردد.

ارائه اعتراض

مادۀ سیزدهم:

(۱) مالکین زمین می‌توانند در خلال پانزده روز، بعد از سپری شدن مدت مندرج فقرۀ (۱)

څخه وروسته د پنځلسو ورځو په ترڅ کې خپل اعتراض په ليکلي ډول اړوندې ښاروالۍ يا اړوندې دولتي وراندې کړي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې د درج شوې ځمکې مالکان نه شي کولای، په ماستر پلان، استراتيژيک پلان او هادي پلان کې د شاملو موضوعګانو په هکله اعتراض وکړي.

(۳) ښاروالي يا اړونده دولتي اداره مکلفه ده، د دې مادې د (۱) فقرې د درج شوي اعتراض د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرختيا د پروژو د پلان د بررسۍ او پاملرنه د تخنيکي کمېټه توظيف کړي.

(۴) تخنيکي کمېټه مکلفه ده، د دې مادې د (۱) فقرې د درج شوي اعتراض د تأييد په صورت کې، هغه د دليلونو په يادونې سره د ښاري ځمکې د بيا تنظيم او د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا د پروژو د پلان د اصلاح لپاره د ښاروالۍ اړوندې ادارې يا اړوندې دولتي ادارې ته وراندې کړي.

مادهٔ دوازدهم اين مقرره، اعتراض خود را طور کتبی به شاروالی مربوط يا ادارهٔ دولتی ذيربط ارائه نمايند.

(۲) مالکين زمين مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده نمی‌توانند در مورد موضوعات شامل ماسترپلان، پلان استراتيژيک و پلان هادی، اعتراض نمايند.

(۳) شاروالی يا ادارهٔ دولتی ذيربط مکلف است، جهت بررسی پلان پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری و انکشاف مجدد زمين شهری و رسيدگی به اعتراض مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، کميتهٔ تخنيکی را توظيف نمايد.

(۴)کميتهٔ تخنيکی مکلف است در صورت تأييد اعتراض مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، آن را با ذکر دلايل به ادارهٔ مربوط شاروالی يا ادارهٔ دولتی ذيربط جهت اصلاح پلان پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری يا انکشاف مجدد زمين شهری، ارائه نمايد.

(۵) تخنيکي کمېټه مکلفه ده، د دې مادې د (۱) فقرې د درج شوي اعتراض د رد په صورت کې، هغه د دليلونو په يادونې سره اعتراض کوونکي ته مسترد کړي.

**د نوم ليکنه او د اعتبار وړ سندونو وړاندې کول**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د ځمکې مالکان د ښاري ځمکې د بيا تنظيم يا د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا د پروژو د پلان د تصويب له نېټې څخه د دېرش ورځو تر مودې پورې، د نوم ليکنې لپاره اړوندې ښاروالۍ يا اړوندې دولتي ادارې ته مراجعه کوي.

(۲) د ځمکې مالکان د ښاري ځمکې د بيا تنظيم يا د ښاري ځمکې د بيا پرمختيا د پروژو د پلان د تصويب له نېټې څخه د خپل ملکيت د اعتبار وړ سندونه د شپېتو ورځو په ترڅ کې اړوندې ښاروالۍ يا اړوندې دولتي ادارې ته وړاندې کوي.

(۵) کميتۀ تخنيکی مکلف است در صورت رد اعتراض مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، آن را با ذکر دلايل به اعتراض کننده مسترد نمايد.

**ثبت نام و ارائۀ اسناد مدار اعتبار**

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) مالکين زمين از تاريخ تصويب پلان پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری يا انکشاف مجدد زمين شهری، الی مدت سی روز، جهت ثبت نام به شاروالی مربوط يا ادارۀ دولتی ذيربط مراجعه می‌نمايند.

(۲) مالکين زمين از تاريخ تصويب پلان پروژه های تنظيم مجدد زمين شهری يا انکشاف مجدد زمين شهری، اسناد مدار اعتبار ملکيت خويش را در خلال شصت روز به شاروالی مربوط يا ادارۀ دولتی ذيربط ارائه می‌نمايند.

(۳) د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا پروژې د ځمکې د مالکانو د اکثریت رضایت په تر لاسه کولو سره، تطبیقېږي.
(۴) که چېرې د ځمکې هغه مالکان چې د دې مادې د (۳) فقرې په پام کې نیولو سره اقلیت تشکیلوي، د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو له تطبیق سره رضایت و نه لري په دې صورت کې ښاروالي یا اړونده دولتي اداره د قانون د حکمونو مطابق کولای شي، د ښاري ځمکې د بیا تنظیم او د ښاري ځمکې د بیا پرمختیا د پروژو د تطبیق په منظور د استملاک له پروسې څخه ګټه واخلي.
